پوهنمل حاجي محمد نوزادي ۲۰۱۷/۰۸/۲۹

# «په افغانستان کي د امريکا پټي موخي او لوڅ جنايتونه»

# پر کتاب تقريظ

خوښ يم چي د انجينر صاحب نعيمي نوي ليکل سوي کتاب له چاپه ووت او په هکله يې ورته مبارکي وايم . نوموړي کتاب زما ددغه تقريظ سره چاپ سوي چي په لاندی کرښو کي د لوستونکو پام ورته را اړوم:

## دا کتاب چي ما و موند (تقريظ):

دا لومړی کتاب نه دي چي د انجينر صاحب محمد ابراهيم نعيمي له قلمه زما لاس ته راځي . خداي مي دي غاړي نه بندوي ، فکر کوم دا به دده څلورم يا پنځم ليکل سوی کتاب وي . که رښتيا ووايم ما دا کتاب دده تر پخوانيو کتابونو په ډير زيات خوند ولوست او دا يوه طبعي خبره ده چي د هر ليکوال ليکني د وخت په تيريدو او د تجربي د زياتيدو سره سم پخيږي ، د ټولنيز چاپيريال د غوښتنو په پام کي نيولو سره پرمختګ کوي او زړونو ته لاره مومي . دده ټول چاپ سوي کتابونه او بيشميره مقالي يې په يوه يا بل ډول د سياست سره تړاو لري ، خو دغه کتاب په ځانګړی توګه د سياسی پيچلو پيښو له ګيډي راوتلی دی .

زه دی له نوي ځلميتوب نه پيژنم . د ليکوالی مخينه يې په تکليف سره د يوې لسيزي نه اوړي مګر په سياست کي يې د شکيلتيا مخينه په چټکی سره تر څلورو لسيزو ور اوړي . دا ځکه ، تر هغه ځايه چي زما را ياد دی ، انجينر نعيمي مي د کابل پولي تخنيک انستيتوت کي د ۱۹۷۲ کال راهيسي شاګرد وو . دی نه يوازي پخپل صنف کي يو له ډيرو لايقو شاګردانو څخه وو ، بلکه د سياست سره تړلي ځلمي وو . دا هغه وخت وو چي په هيواد کي د روڼ اندو تر منځ د سياست ډګر خورا تود وو ، په تيره بيا د لوړو زده موسيسي د ځوانانو د پاره د سياست اصلي چاپيريال ګرځيدلي وو . د هغه وخت په سياسي جذباتو کي د ځوانانو احساسات د دوي پر عقل باندي ډير برلاسي ول . که ووايم چی نعيمي صاحب لا هغه وخت د خپلو ټولګيوالو سره پدې اړه توپير درلود ، تيروتنه به مي نه وي کړې . دی آن هغه مهال په سياسی تمايلاتو پسې په پټو سترګو روان نه وو ، د ډير فکر او تعقل نه يې کار اخيست او د ټولني د غوښتنو سره سم يې سياسي ليدلوری ټاکه . که دا خبري يوې خواته پريږدو او دغه وروستي کتاب ته يې را وګرځو ، نو :

په تيرو کرښو کي مي دده د ليکوالي مخينه څه باندي يوه لسيزه ياده کړه . دا موده د ليکوالۍ د پخيدو د پاره اوږد وخت ندي . پدغه لنډه موده کي دده قلم دومره لاره وهلې ده چي نورو ته په ډيرو لسيزو کي اسانه کار نه وو . د بيلګي په توګه به بيځايه نه وي چي دده دشخصي کړو وړو تر څنګ دده د ليکوالۍ د پيل يوه يادوونه وکړم . دده په شخصي کړو وړو کي يوه ډيره په زړه پوري ځانګړتيا داده چي د لطيف جنس په اړه د نازکو احساساتو نه ملامال دی ، د ښکلا احساس ته د هنر په سترګه ګوري او هيڅکله يې هم تر څنګ بې تفاوته نه تيريږي . ده پټيئلی وه چي په افغاني ټولنه کي د ښځو د حالاتو په اړوند يو کتاب وليکي او مخکي له دې نه چي د عمر ديب يې د قلم څوکه ور ماته کړي ، ددغه جنس په وړاندي د رومانتيک نظر سره د تړلي پور په ادا کولو کي خپل هوډمن رول تر سره کړي . کتاب ته يې ډير مواد را ټول کړي وه . يوه ورځ يې ماته د نوموړي طرح سوی کتاب د پاره خپله يوه ليکلې برخه راوړه چي و يې لولم او د اړينو اصلاحاتو اجازه يې هم راکړه . فکر کوم دا به دده تر ټولو لومړی او يا يوه له لومړنيو ليکنو څخه وه چي نشر ته يې د سپارلو هوډ کړی وو . ما يې ليکنه ولوستل . منځپانګه يې راته په زړه پوري وه مګر هغه ليکدود چي ده کارولی وو ، يوازي د کليوالي عادي ګړدود يا شفاهي ژبي سره جوړ وو او ليکني يې پدغه ليکدود سره زما په نظر د نشر وړتيا نه درلوده . که څه هم پښتو ژبه لا د بده مرغه تر اوسه پوري د معياري وړتياوو څخه بې برخي ده ، ما تر يوه بريده په نوموړي ليکنه کي د ليکدود اړين اصلاحات راوستل او ده ته مي په تکليف قناعت ورکړ چي د شفاهي ادب او ژورناليستيکي ليکنو ژبه يو له بله ډير توپير لري . وروسته چي خبر سوم ، ده د خپل هغه لومړی کتاب لپاره ډير څه ليکلي وه او زما د تينګار له مخي و دې ته اړ وت چي پر ليکدود يې يوار



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

بیا کتنه او ټینګ غور و کړي . پدې توګه اړ سو چي خپل ټول لیکلی مواد یوار بیا دسره وګوري او د ژورنالیستیکي ژبي د لیکدود سره یې تر وسه وسه برابر ولیکي . ځان یې ډیر ور باندي ستړی کړ مګر کتاب په ډیره ښه ژبه چاپ ته تیار سو . هغه کتاب ته یې ډیر ښکلی او رومانتیک نوم (او لا ګلونه سوزي) ټاکلی دی . نژدې ځلور کاله د مخه کتاب چاپ او د مخکاته په غونډه کي ښه ډیري خبري پرې و سوې .

دا بیلګه مي ځکه دلته یاده کړه چي که دده د لیکنو پوخوالي د لس کاله وړاندي سره پرتله کړو ، توپیر یې د ځمکي نه تر اسمانه پوري دی . د بل لوري دی په مسلکي ځته د کان سپړلو ( استخراج ) یو انجینر دی ، نه د ادبیاتو د ځانګي فارغ سوی ادیب . ځکه نو دده غوندي کسانو په لیکنو کي ګرامري تیروتني خو لا یوې خواته پریږده ، آن املایي تیروتني هم تر سترګو کیدلای سي . ما ته څو کاله وړاندي زما یوه فرهنګي دوست د تقریظ او ارزوني پخاطر خپل یو لیکلي داستان چي چاپ ته یې اماده کاوه ، را ولیږی . داستان خورا اوږد وو او اوږدوالی یې د داستان تر کچي لوړ ښکاریدی . دغه لیکوال د ادبیاتو پوهنځی د انګریزي ډیپارټمنټ څخه فارغ سوی وو . کله چي مي داستان لوست ، ټایپي ، ګرامري او املایي تیروتني یې بې شمیره وي ، ما د ټولو د اصلاح کولو د پاره وخت نه درلود او خبره مي و لیکوال ته یاده کړه . هغه سخت رانه خفه سو او زه اوس پر خپلي هغي یادوني پښیمانه یم چي کاشکي مي نه وای ورته کړي . د نیکه مرغه د انجینر نعیمي په اوسني لیکنو کي یو نیم ځای ټایپي تیروتني او کله ناکله مي هم د لیکدود ستونزي تر سترګو سوي ، مګر املایي تیروتنو ځای نه درلود ، چي دا دده په لیکنو کي د ستاینې وړ ټکي دي .

څو هفتي وړاندي انجینر صاحب خپل دغه اوسني کتاب چي د چاپ د پاره یې اماده کوي ، په ایمیل کي را ولیږه او هیله یې کړی وه چي و یې لولم او د خپل نظر ټکي د یوه تقریظ په ترڅ کي پرې ولیکم .

کتاب چي ډیر اوږد نه دی او شاوخوا ۲۵۰ مخه کیږي ، په اړین دقت مي ولوست او لکه څنګه چي مي یاده کړه ، د لوستلو نه مي په رشتیا هم خوند واخیست . ښایي پدې خاطر به یې خوند را کړي وي چي مطرح کړي موضوعګاني یې زما د نظر سره ورته والی لري . لکه څنګه چي لوستونکي خبر دي ، یو نیم وخت چي مي ددغسي موضوعګانو په تړاو لیکني کړي ، قضاوت مي په همدغه بهیر کي ساتلی دی چي د کتاب منځپانګه جوړوي . ددې کتاب اصلي منځپانګه پر هغو بشري ضد جنایتونو باندي را څرخي چي امریکایي واکمنان یې د څارګري اداري سي ای یې د ستراتیژی سره سم د دوه مخي دموکراسی تر سیوري لاندي په نړی او په ځانګړي توګه په افغانستان کي د بنسټپالني سره د مبارزې په پلمه تر سره کوي . دغي د امریکا دوه مخي دموکراسی د پاکستان د دوه مخي سیاست تبر ته لاستی ورکړی ، لنډه غړی ته یې ملا تړلی او هر ډول حقوقي او اخلاقي نورمونه تر پښنو لاندي کوي . لکه څنګه چي د امریکا خارجي سیاست د سي ای یې لخوا ټاکل کیږي ، همدارنګه د پاکستان خارجي سیاست ، ای ایس ای ورته ټاکي . دغو دوو دوږخي سازمانو یو بل ته د ورورۍ لاس ورکړي او په افغانستان کي یې د دوږخ د اور لمبې بلي ساتلی دی . مخکي لدې نه چي امریکا پر افغانستان برید وکړي ، پکار وه چي د هیواد تاریخ یې ښه لوستی او اولسي اناتومي یې د خپل سیاسی میکروسکوپ لاندي په ځیر سره څیړلي وای . که یې داسي کړی وای ، نو دوی به په دې پوه سوی وای چي شوروي ولي سیوسیالیزم دې هیواد ته صادر نه کړای سو ، همداسی د دموکراسی صادرول دوی ته اسانه کار ندی . تر دې خبرې پوري مي یوه خاطره را یاده سوه :

د شورویانو د اشغال پر مهال یوه ورځ د کانو او صنایعو وزارت د رهبری په جلسه کي قصداً د شوروي مشاور څنګ ته چي نسبتاً یو ازاد خیاله سړی وو ، کښیناستم . یو کتاب چي په روسي ژبه د فریدریک انګلز اثر وو ، قصداً مي را سره واخیستي او خپل مخته مي داسی کښیښود چي مشاور یې ښه و لیدلای سي . هغه ولید ، وا یې خیست ، پرله وا یې ړاوه او پوښتنه یې رانه وکړه چي دا څه په کوي . ما ورته وویل چي په دې کتاب کي د افغانستان په هکله د انګلز یوه لیکنه ده ، هغه مي ولوسته . ده رانه و غوښته څو کتاب امانت ورکړم چي دی یې هم ولولي ، ما په خوښی سره کتاب ورکړ . د انګلز دا لیکنه چي د « افغانستان » تر سرلیک لاندي یې ډیر ډیر ګلونه پخوا لیکلي ده ، د افغانستان لنډ تاریخ ، د اولس ځانګړني ، د انګریزانو سره جګړه او د انګریزانو تلفات یې په ډیر دقیق ډول څیړلي او په پای کی یې نتیجه ګیری کړي چي افغانان پر ازادی مین خلک ، په یکنواخته کوچیاني ژوند کي جنګ کول ورته تفریح ښکاریږي . انګلز په اخیر کي لیکي چي که هر څوک د افغانانو په وړاندي توره و کاروي ، په هغه توره به یې خپل سر غوڅ سي . مشاور دوي ورځي وروسته کتاب بیرته راکړ . ما تری نه و پوښتل چي څنګه وو ؟ ده ویل نپوهیږم چي زموږ مشرانو به په کرملین کي دغه لیکنه لوستي وی ، کنه . که یې لوستي وای ، خامخا به یې دغه محدود قطعات دلته افغانستان ته نه وای لیږلي . ما ورته وویل چي ستاسي په مشرانو خو خبر نه یم ، مګر زموږ مشرانو خو حتماً نده لوستي . که یې لوستي وای ، خامخا به ددغو محدودو قطعاتو سره خپل وطن ته نه وای راغلي ( هغه مهال یې د شوروي ۱۲۰ زره کسیز پوځ په رسمي ادبیاتو کي « قطعات محدود » پنامه یاداوه ) .

په دغه کتاب کي انجینر نعیمي دې موضوع ته اشاره کړیده چي امریکا د ساړه جنګ پر مهال او په ځانګړي ډول پر افغانستان باندي د سره اردو تر یرغل وروسته ، د شوروي پر ضد د اذهانو د راپارولو په موخه بنسټپالي ډلي جوړي او پیاوړي کړي ، مګر اوس چي شوروي اتحاد دړي وړي سوي ، دغه د لستوني ښامار د امریکا په خپله مرۍ داري ښخوي او شیطاني ګریوان ته یې لاس ور اچولی دی .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولئ

پدې اړه چې د امریکا خارجي سیاست ته څارګري اداري او په هغوی پوري تړلي بنسټونه لیدلوری ټاکي ، د کتاب په یوه برخه کې داسې یادوونه کیږي : « هغه امریکایي څېړنیزې ادارې چې پر منځني ختیځ تمرکز لري، د امریکا د حکومت لپاره یې د اسلامي نړۍ پر ضد د فکري جنګ د توجیه لپاره، ګڼې تګلارې او کړنلارې وړاندې کړي. په دې منځ کې، د رنډ موسسې رول، چې په نړۍ کې تر ټولوستره څېړنیزه اداره ده د داسې ادارې په توګه چې د امریکا په سیاسي پرېکړو کې یې رول ډېر کلیدي او پام وړ دی، تر نورو ادارو ډېر مهم دی » .

د کتاب د پام وړ ټکیو کې پر دې خبره فوکس سوی چې امریکا د هغه چا پر ضد په جګړه کې چې پخپله یې را منځته کړیدي ، هر ډول کړني روا بولي او تر دغه نظر لاندې د بېګناه خلکو په وژنه کې بشري ضد جنایتونه ځانته مباح ګڼي . یو وخت ما ( نوزادي ) په یوه کتاب کې د جګړې تعریف داسي لوستی وو : « جګړه د دوو ډلو لخوا یو د بل وژني ته وایي چې دوی دواړې ډلې یو د بل سره پیژندګلوي نلري ، مګر د هغه چا پخاطر یو بل وژني چې هغوی یو بل ښه سره پیژني » . همدلته هم خبره کټ مټ دغه شان ده ، یاني د تروریزم او بنسټپالني سره د امریکا په جګړه کې هغه کسان یو بل وژني چې دوی یو دبل سره هیڅ شناخت نلري مګر امریکا او بنسټپالنه د یو بل سره ښه شناخت لرې او پخواني یاران دي .

په کتاب کې د ( رنډ اداري ) د فعالیتونو په لړ کې ، د هغې د یوه راپور نه داسي یادوونه کوي : « د رنډ اداري د ۲۰۰۵ په فبروري کې د «ډیموکراتیک مدني اسلام» تر سرلیک لاندې یو راپور خپور کړی و. د دغه راپور یو څېړونکی لیکي: « د دې لپاره چې خپلو غوښتنو او موخو ته ورسېږو، په سیمه کې د اسلام د حقیقت او ماهیت له پېژندني خلاصی نه لرو. دا اسلام دی چې د اوسني وضعیت د بدلون لپاره زموږ ټولې هڅې له ناکامۍ سره مخ کوي. یوازنۍ حل‌لاره دا ده، چې مسلمانان د «بنسټپالو، دودپالو، نویتوب پالو او سیکولرانو» په څلورو ډلو وویشو.»

د یوه بل لاسوند پر بنسټ د کتاب په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

(د هالیود نوموتی دایرکتر ، فلم جوړونکی ، بزنسمن او سیاسي فعال آرون روسو وایي چې نیک روکفیلر ورته د سپتمبر ۱۱ نیټې پیښې له پیښېدو یوولس میاشتې دمخه وویل چې یوه پیښه پیښېدونکې ده او د دغې پیښې له امله به مونږ پر افغانستان حمله وکړو ، تر څو د کسپین سمندرګي له پایپلاین څخه کار واخلو ، مونږ به پر عراق هم برید وکړو تر څو د تېلو زېرمې خپلې او په منځني ختیځ کې یوه ( نظامي ) اډه جوړه کړو . مونږ به په وینزیولا کې په چاویز پسې هم لاړ شو . کله چې ښاغلی روسو له روکفیلر څخه پوښتي ، چې کله مو غوره شوي ټوله شتمني او ځواک خپل کړي ، نور څه غواړې ، روکفیلر په ځواب کې وویل : « هر چا ته چیپ ( الکترونیکي ټوټه ) ورتومبل ، د ګردې ټولنې څارل او د ټولې نړۍ کنټرول بانکرانو او غوره شویو خلکو ته سپارل ، دا مو وروستۍ موخه ده »).

د بشپړې څرګندونې په خاطر باید یاده سي چې چیپ هغه الکټرونکی فلزي ټوټه ده چې همدا اوس یې د حیواناتو په فارمونو کې لکه خوګان ، غواوې ، پسونه او نورو پر غوږونو ټومبي او ددغه چیپ په موبټ په ساحه کې د ژوي موقعیت ، صحي حالات او ټول کړه وړه د فارم د اداري په مرکز کې د کمپیوټر د لاري تر کنټرول لاندې دي.

زما ( د تقریظ لیکوال ) په آند اړینه ده چې سیاسي څېړونکي د یوهان ګالټونګ پنامه د ناروې د یوه سیاستوال او ټولنپوه لاندې وړاندوینې ته چې د کتاب په یوه برخه کې را نقل سویده ، پام و کړي : « د سولې نوبل جایزې نوماند او ناروېژي ټولنپوه ( یوهان ګلټونګ ) وایي چې د امریکا قوت مخ په ځوړ روان دی او د ډونالډ ټرمپ په ولسمشرۍ کې به د امریکا اوسنی نړیوال ځواک اوبه شي. یوهان ګلټونګ په نړۍ کې د مختلفو سترو تحولاتو په اړه مخکې له مخکې وړاندوینې کړې دي چې بیا سمې ختلې دي. نوموړی هغه شخص دی چې د شوروي اتحاد د راپرځېدو وړاندوینه یې هم کړې وه. ګلټونګ په ۲۰۰۰م کال کې ویلي و چې «امریکایي امپراتوري» به د ۲۵ کلونو په اوږدو کې سقوط وکړي. خو کله چې جورج بوش د امریکا انتخابات وګټل، نو ګلټونګ د جورج بوش افراطي پوځي پالیسیو ته په کتو ، دغه موده پنځه کاله نوره هم رامخکې او د امریکا نړیوال استکبار عمر یې ۲۰ کاله تخمین کړ.» . البته دغه شل کاله د دونالد ټرمپ د واکني د ختم سره پای ته رسیږي .

ددې څخه که تیر سو ، په کتاب کې د ډیرو لاسوندونو پر بنسټ خورا په زړه پوري او نوی مالوماتونه را ټول سوي او چاڼ سویدي چې په ځانګړې توګه د سیاست سره تړلو کسانو ته به یې لوستل ډیر ګټور وي . زه د هیواد په دننه او بهر کې دغه کټیګوري کسانو ته ددغه کتاب په ځیر لوستلو سپارښتنه کوم .

په کتاب کې انجینر صاحب نعیمي د ترهګرۍ داسي تعریف کړیدی : « د عادلانه او یا غیري عادلانه موخو ته د رسیدو له پاره د انسانانو وژل د ترهګرۍ لنډ بیان دي » . که څه هم د تروریزم یا ډار اچوني د پاره تر اوسه پوري د م.م. لخوا یو منل سوي تعریف شتون نلری ، خو لوړ تعریف هم په بشپړه توګه د منلو وړ نه بریښی اوزما په آند ، بیا غور کولو ته اړتیا لري .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کتاب په ليکلو کي د ښايسته ډيرو لاسوندونو يا اخستځايونو ( مآخذونو ) څخه کار اخيست سويدي چي د ستاييني وړ يي بولم ، مګر دکتاب په ځينو ځايونو کي پر يوه يا بل لاسوند باندي حواله داسی ور کړه سويده چي لوستونکي ته سم ادرس پلاس نه ورځي ، مثلاً د سپړني په ترڅ کي يو دم ليکي : ولولئ : « ........ » . پداسی حالاتو کي لوستونکي لاره ورکوي او نپوهيږي چي دغه په قوسونو کي خبري د چا دي . دا ډول يادووني ډيري دي چي سړی ګوته ورته نيولای سی ، مګر په ټوليز ډول د انجينر صاحب خواری او ستړياوی بيځايه ندي تللي او کتاب به د چاپ نه وروسته د ډيرو هرکليو وړ و ګرځي . پر هلوځلو دي يي برکت وي ، خدای دي هغه ډول غمونه چي تير کال يي کورنی د ځوانيمرګ ميرويس جان په مړينه ور سره مخ سوه ، نور نه راولي .
امين يا رب العالمين
پوهنمل حاجي محمد نوزادي
ډنمارک ــ د Aarhus ښار
د ۲۰۱۷ کال د می مياشتي ۲۷ نيټه ، شنبه د مبارکي روژې لومړی ورځ

نوټ:
لوړ تقريظ هغه وخت ليکل سوی چي کتاب چاپ ته اماده کيدی . د کتاب ليکوال ، کتاب ته بيخي بل نوم ټاکلي وو چي زما په آند يي د متن سره ډير سر نه خوړ . ما ورته د هغه نامه پر ځای د دغه اوسني نوم ياني « په افغانستان کي د امريکا پټي موخي او لوڅ جنايتونه » وړانديز وکړ . دا نوم دده هم خوښ سو او ورڅخه مننداوی يم چي په ورين تندي يي زما وړانديز ومني او کتاب يي په همدي نامه چاپ کړ .

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ